دانټرنيټ دفارسی سرچينوڅخه
ژباړونکی ؛ عزيزاحمد خوارمل

# ناټو« NATO »

# او

# دناټو« NATO »  پيژندنه !



## دوهمه برخه

## دشمالی اتلانتيک سازمان نظامی تړون

## North Atlantic Treaty Organization

## ناټو« NATO » پيبنليک اوددی نظامی تړون دجوړويدو بهير !

ددوهمی نړيوالی جګړی دپای ته رسيدو سره سم ديوی اونی  خبراتروڅخه وروسته دجګړی دګټونکوهيوادونودمشرانو ترمنځ داروپايي هيوادونو دپلواوسرحداتوسياسی اوجغرافيوی نقشه انځوراووکښل سو. تر جګړی  وروسته پرنړی باندی دوه قطبی نظام واکمن سواوپه همدی ډول سره داروپا نوي جوړښت ددوو لويو ګټونکونوترمنځ ديوی بنسټيز ايديالوژيک دريځ  په توګه،سيالی رامنځته سو. په داهسی شرايطو کې هرهيواد ديوی وروستی سرليک په ډول سره مجبوره وو چې ددغو دووقطبونوڅخه يو اړخ ونيسی .

په ختيځ اولويديزکې ددوولويونظامی اوصنعتی ځواکونويعنی دجاپان اودالمان دمنځه وړل اوپه نتيجه کښې لوږه ،پقر اوآخ اوډوب ټوله اروپا يې په پراخه توګه سره نيولی وو،دغه ستونزي اونيمګړتياوي ددی سبب وګرځيدی چې شوروي ددی تش ځايه څخه را ووځې اوډېره ګټه ترلاسه کړی اوپه اروپايي هيوادونوکښې يې دکمونستی ګوندونو جوړه ول او دختيځ المان (جرمنی) ،درومانيی ،دپولنډ، اودمجارستان (هنګری) هيوادونه يې ترخپل واک لاندی راوستل اودخپل بهرنی سياست دموخودپرمخ بيولودپاره دغه کړنی يې ترسره کړ .او دبل لور ی نه شوروي دهستوي وسليوترلاسه کول اوپه ښکاره ډول په جګړه کې دهغه څخه خطر،ددی سبب وګرځيدی چې داروپالويديزهيوادونه چې ځانونه يې دشوروي دګواښونوپه وړاندی په خطرکې ليدل ،ورروسته ترجګړي نه دخلع سلاح اودوسليو دمنځه وړلوڅخه ځانونه يې کوښه کړ اوپريکړه يې وکړ چې دټوليز امنيت دتامينولواودټينګولواودګډی دفاع په خاطرسازمانی جوړښت رامنځته کړی . ددی لړليد اوسوچ نتيجه دا وو چې د انګليس دبهرنی چارو وزير (ارنست بوين) دلويديزی اروپا دهيوادونو دپاره ديوی اتحادی دجوړښت وړانديز يې وکړ چې دده دغــه وړانــديز دډېر هرکلـــی سره مخامخ ســـو، او ددی جـــريان اوپروسی په پای کې ،**ناټـــو**

«NATO» »دبروکسيل دنظامی تړون په رامنځته کيدوسره رامنځته سواود (۱۹۴۸) ميلادی کال دمارچ په مياشت کې د(۵)پنځواروپايی هيوادونو لکه انګليس، فرانسه، بيلجيم، هالنډ او دلوکزامبورګ په ګډون اوغړيتوب سره دغه نظامی تړون جوړاورامنځته سو. اوددی نظامی تړون دغړی هيوادونو سوچ اولړليدديوی امنيتی نظم اوجوړښت رامنځته کول وو،همدارنګه مخته تردغه نظامی تړون څخه د دونکرګ تړون لاسليک اورامنځته سوی وو،مګردبروکسيل تړون ددونکرګ دتړون سره چې ددونکرګ تړون يو کال مخته رامنځته سوی وو،دېرتوپيرونه يې لرل ځکه دبروکسيل تړون دهرډول تيری په وړاندی چې دهرهيواد دخوا څخه ترسره کيدی غړی هيوادونه هرومرودهغه په مخنيوی کې په ټينګه سره ودريږی ،اوغړی هيوادونه په ګډه سره مخنيوی ځينی وکړي ،دغه تړون په دی معنا اومفهوم سره دغسی يو تړون وو،په داهسی حال کې چې د دونکرګ تړون يو امنيتی تړون وو اويوازی دالمان ديرغل په وړاندی رامنځته سوی ووچې دغه امنيتی تړون په (۱۹۴۷) ميلادی کال کې دفرانسی اودانګليس ترمنځ لاس ليک اوامضا سوي وو اودهغه موخی مشوری اوګډ امنيتی پيل دهر ډول نوی تيری پرضدوو چې دغه تيری دالمان (جرمنی ) دخواڅخه ترسره کيدی .ددونکرګ دتړون درامنځته کولو دليل دا وو چې اروپائيانو دالمانيانو(جرمنانو) نه يې پردی بنسټ چې دوي( المانيان )ددوو جګړو پيليدونکی دي ددوي نه يې تريخی خاطری يې لرلی يې او اروپايي هيوادونه ددی تړون سره يې وکولی سو چې اروپا دخطرونو اودګواښونوڅخه وژغوره وي اودهغه دورانی څخه مخنيوی وکړي .

دشوروي دواک رامنځته کيدل يود خطر دزنګ په شان دېرځلی دالمان (جرمنی) دخطر دزنګ په پرتله لوی اوسترو،له همدی کبله داروپايي هيوادونودموخولوری دشوروی پرخواواوښت اودهمدی کبله دبروکسيل دتړون موخی دالمان(جرمنی )سره دمخامخ کيدوڅخه لاس واخيست اودشوروي په

وړاندي  په مخامخ درېدوسره  يې وخپلي لوری ته بدلون ورکړاودغه دلوری دبدلون لمړنی هسته اومرکزيت يې ديوی غښتلی اوځواکمن  نظامی تړونونوله جملی څخه  دغه تړون داروپا په تاريخ (پيښليک)کې او همدارنګه دنړی په تاريخ (پيښليک)کې دستری پيښی په توګه رامنځته سو.

په ختيځی اروپا کې دشوروي پرله پسی لاسوهنی اوداروپا ديوازنی دفاعی امکاناتوپه نشته والی سره دکمونيزم په وړاندي دامريکا ګډون داروپا دامنيت دتامينولو دپاره ديو دفاعی تړون په چوکاټ کې دېراحساسيدل ،اوپه دی بهير کې،په دی  وخت کې دبروکسيل په غونډه کښې دفرانسی لمړی وزير (ژرژ بيدو) يوپيغام وجنرال جورج مارشال (۱)ته ورولېږل  اوهغه ليږل سوی پيغام  ووچې داروپا اودامريکا ترمنځ دنظامی تړون سرليک وګرځيدی ،دفرانسی لمړی وزير په هغه پيغام کې يې ويلی وو: هغه وخت رارسيدلی دی چې پخوانی نړی (اروپا) اونوی نړی (امريکا) خپلې نظامي اوسياسي مرستی په ګډه سره يودبل سره پيل کړي .

په (۱۹۴۸) ميلادی کال کې د انګلستان، فرانسی، بيلجيم، هالنډ ، لوکزامبرګ د امريکا دمتحده ايالاتونو او دکاناډادبهرنې چارودوزيرانوپه رابلنی سره ديوځای کيدو ،ديووالی ،امنيت او ددوه اړخيزی دفاع  په خاطردغه غونډه تردغه اجندا اوسرليک لاندی  پرانستل سو  اود(۱۹۴۸) دمنی په موسم کې په واشينګتن کې  اړوند خبراتری ، دشمالی اتلانتيک دنظامی تړون په هکله پيل اوپه (۱۸۴۹) ميلادی کال کې داپريل په مياشت کې دشمالی اتلانتيک دنظامی تړون درامنځته کيدو  اسناددنوموړوګډونکو غړيوهيوادونولخوا لاس ليک اوامضا سول  .

امريکا په هغه وخت کې دانزوا غوښتنی اودګوښه نيونی  دسياست څخه يې پلوی کول  . چې دمونروئه دکترين  (۲) * دامريکاد بهرنی سياست په هکله يې ورته مشوري ورکول اوهغه يې  ورته ديکته کول البته دغه تړون  دامريکا په ګډون سره په دوهمه اودريمه نړيواله جګړه کې  لږرنګه (کم رنګه) سوی وو .په همدی ډول سره **ناتــو«**  NATO  » يو دفاعی تړون  دامريکا دلويی وچی (براعظم )څخه وتلی  وو   چې هغه ته  يوازی دمونروئه ددکتورين  دمنځه وړل څخه  يې ،دامريکا دبهرنی سياست دپاره  درسيدو بله لاره نه درلوده .

 دامريکا دمتحده ايالاتونوپه بهرنې سياست کې دلاتينی امريکا سميه تل يې خاص ځای درلود اودا اوس هم  خاص ځای لری  . دامريکادمتحده ايالاتونودجوړيدوڅخه  ددی هيوادجمهور رئيسانومدام ددی سيمی په هکله يې په علحيده توګه خاص حساسيتونه يې دځانه ښودلي دي . ددی سيمی  ژئوپلتيك  ، ژئواستراتژيك او ژئواکونوميك  ارزښتونه  دامريکا دمتحده ايالاتونــوپه بهرنــي سياست کـــې تر دی اندازی پورې مهم اوارزښتمـــند ګڼل ســوی  دی  چې يو

شمیر ښيړونکي دغه سیمه يې دامریکا دژوندکولواودخلوت کولو اوسره کرښه(قرمزخط) يې بللي دي
.

ددی پیښواوجریاناتوپه لړ کې چې دامریکا دهیواد بهراوډباندی دهیوادڅخه رامنځته سوی دی ټوله ددی ښکارندوی دی چې نور دګوښه نیونواودګوښه کیدواودانزوا وخت سرته رسیدلی دی اوپه دی هکله سناتور واندنبرګ دامریکا دسنا وجلسی ته يې وړاندیز وکړچې دهغه پرښنسټ دامریکا ودولت ته اجازه ورکول سول چې یولړ هوډونه دامریکا دپلی اوسرحداتوڅخه دباندی ومنی چې په پای کې پردغه موضوع پریکړه وسو، دغه موضوع تصویب او ومنل سو .

ددی وړاندیز دپریکړی اودتصویب نه ،وروستی کړنه دا ووچې د **ناټــو**« NATO » دنظامی تړون په هکله خبراتری د(۱۹۴۹) میلادی کال دجون پر (۶) نیټه باندی په واشینګټن کې دامریکا ،دکاناډا اودبروکسیل دنظامی تړون دغړوهیوادونودبهرني چارودوزیرانوترمنځ پیل سوي اوددی خبراتروپه نتیجه کښې د **(۱۹۴۹)** میلادی کال دمارچ په میاشت کې دنوروارویپایی هیوادونولکه د ناروي، ایسلند، ایتالیا، پرتګال او ډنمارک څخه هم بلنه صورت وموندچې بالاخره د**(۱۹۴۹)** میلادی کال داپریل پر**(۴)** څلرمه نیټه باندی دشمالی اتلانتیک نظامی تړون د**(۱۲)** دوولسوهیوادونودبهرنی چارودوزیرانوپه ګډون اولاسلیک سره،چې امریکااودکاناډا دامریکا دلویی وچی هیوادونوڅخه ،پنځه **(۵)** هیواده دبروکسیل دتړون غړی ،دری **(۳)** هیواده لکه ناروي ،ډنمارک اوایسلنددشمالی اروپا څخه دایتالیا اوپرتګال په ګډون سره دامریکاد بهرني چارو په وزارت کې دامریکا دهغه وخت دجمهور رئیس ترمن په شتون سره دهغه په مخکې دغه تړون لاسلیک اوامضا سو اودهغه کال دحوت دمیاشی د څلرویشتمی (۲۴می) نیټی څخه عملی بڼه يې واخیست اوسمدلاسه ترکارلاندی ونیول سو او **ددغه سازمان ټلواله داتلانتیک ددواړوغاړودهیوادونوترمنځ اړیکي پالي چې ترمخي يې شمالي امریکا اواروپایودبل سره په تل پاتې توګه تړل سوي دا دغړوهیوادونو ترمنځ دهغوګډوګټوپه ملاتړداغیزمنې هڅې یوه عملی ښکارنده ده .**

(۱) * دژباړونکی یادداښت :جنرال جورج کاتلد مارشال دنړیوالولویوجګړیوپه ترڅ کې دامریکادهغو نظامـی لارښودونکواومشرانوله جملی څخه ووچې دامریکا دځــواکــونودستردر

ستیز اوجګپوړی قوماندان په توګه او دامریکادبهرني چارودوزارت ددریم معاون په توګه يې دندی ترسره کړیدی دمتفقینوسره په جګړه کې ددوي دځواکونوپه وړاندی دواکمن مدیراوقوماندان په توګه اودکار دښه مدیرت اوقوماندانیت له امله چې په دوهمه نړیواله جګړه کې دمتحدینوپه ګټه پای ته ورسیده،چرچل هغه دبریاو طرحه کوونکی وبلل اوددوهمی نړیوالی جګړی په وخت کښې دی هم دقوماندان په توګه او هم دروزولت دخاص مشاورپه توګه يې دندی ترسره کولی يې اوهمدارنګه کله چې دبهرنی چارودوزیر په توګه يې دنده ترسره کوله په (۱۹۵۳) میلادی کال کې دنوبل دصلحی دجایزی دترلاسه کولونه خلکو وده ته يې دمدبراوپوه مارشال لقب ورکړی وو. »

(۲) * دژباړونکی یادداښت :په (۱۹۲۳) میلادی کال کې دامریکا دمتحده ایالاتونودوخت جمهور رئیس جیمزمونروئه یوه طرحه يې وړاندی کړه چې دغه طرحه دمونروئه په دکتورینو باندی وپیژندل سو. دامریکا دمتحده ایالاتونودغه دکتورین دامریکالویه وچه( براعظم )اوخصوصاًدلاتینی امریکا سیمه يې

دمتحده  ایالاتونودنفوذ سیمه یې سرلیک کړ اوځواکمن اروپايي هیوادنه یې په دی سیمه کښې دهرډول نفوذ،لاسوهنو،شتون اوکړنوڅخه یې محرومه کړي وه .

همدارنګه دمونروئه ددکتورین دلړلید درامنځته کیدوڅخه دوه پیړی تیرسو،اوڅه ناڅه دیوتاثیرلرونکی لړلیدپه توګه دامریکا دبهرنې سیاست په دستګاه کې عملی کیږی اودا اوس هم کار ورنه اخیستل کیږی .دغه دکتورین داروپایی هیوادونواونوروهیوادونولخوا په رسمیت پیژندلی سوی وو اوپه همدی ډول سره امریکا په دی سیمه کښې دبلامنازع انحصاری نفوذ څخه  برخمن وو.  /

(نوربیا،په دریمه برخه کې ادامه لري)

اخیځلیک  :
-دایسنا نیوز څخه
- د فارسی  ،ویکیپدیای څخه